DEMOCRACY INTERNATIONAL | AFGHANISTAN

# د افغانستان د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره جامع سپارښتنی

وري ۱۳۸۹

تولید او چمتو کونکی: دیموکراسی انټرنیشنل

اړیکی:

جېډ اوبر

بریښنا لیک:  jober@democracyinternational.com

ویب پاڼه:  www.democracyinternational.com

د اړیکی شمیری:

په افغانستان کی:  +93 (0) 798574806

د امریکا په متحده ایالاتو کی:  +1-301-961-1160

# جامع سپارښتنې

دا ۳۴ جامع سپارښتنې، د یوی څیړنې، هر اړخیز تحلیل او د افغانستان په انتخاباتو کښې د دخیل اشخاصو د وړاندی شویو نظریاتو پایله ده. د ۲۰۰۴ کال راپدیخوا، په سلګونو تنو په انفرادی توګه او اداراتو د افغانستان د انتخاباتو د اصلاح لپاره یو لړ عملی کړنې وړاندی کړی دی. دا سپارښتنې د افغانستان د مدنی ټولنو، نړیوالی ټولنې د نظارت ماموریت، مرسته کونکی ټولنی او د ټول ټاکنو خپلواکو کارپوهانو د نظر د توافق عمده ټکی جوړوی. دا سپارښتنې د ۴۳۷ مختلفو سپارښتنو له جملې څخه چې په انتخاباتو کښې د ذیخل اشخاصو د یوه لویې ډلې لخوا وړاندی شوی راښکل شوی دی. ټولی ۴۳۷ سپارښتنې د " د افغانستان د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره سپارښتنې" تر عنوان لاندی د یوه جلا سند په توګه موجود دی، چې کولې شی دا سند د www.democracyinternational.com/afghanistan ویب پاڼې له لاری تر لاسه کړی.

دا ۳۴ سپارښتنې، د ۴۳۷ موجودو سپارښتنو له جملې څخه د افغانستان د ټاکنو د اصلاح لپاره منل شوی غټ ټکی جوړوی. د یادونی وړ ده چې دا سپارښتنې یوازی د دیموکراسی انترنیشنل نظریات نه وړاندی کوی. دا سپارښتنې د سلګونو اسنادو او د ۵۰ څخه د ډیرو لومړنیو مدارکو د کتنې په نتیجه کی لیکل شوی دی. دا سپارښتنې د ټاکنو په پروسه کښې د ذیدخیل اشخاصو د جامع نظریاتو مجموعه ده او باید چې د افغانستان د ټاکنو د ژورو اصلاحاتو د مباحثو اساس جوړ کړی.

مهمی توافقی سپارښتنې چې باید په افغانستان کی د ټاکنو د اصلاحاتو لپاره پلی شی په لاندی توګه دی.

1. **د منفرد نه انتقالیدونکی رای سیستم یا (Single Non Transferable Vote) کارول ته بیا کتنه وشی:** په عمومی توګه د نظریاتو تفاهم وجود لری چې د منفرد نه انتقالیدونکی رای سیستم یا (SNTV) د سیاسی ډلو د خپریدو مخه نیسی او د فغانستان د مختلفو خلکو د عادلانه او دقیقی نمایندګی څخه مخنوی کوی. د افغانستان د ټولټاکنو د یوه ښه بدیل سیستم د تشخیص په منظور د افغانی ډلو او د ټاکنو د نړیوالو کارپوهانو د نظریاتو د جلب لپاره باید یوه عمومی مشورتی پروسه جوړه شی. یو بدیل سیستم چې همیشه وړاندی شوی، یو مختلط سیستم دی چې د متناسب سیستم او د منفرد نه انتقالیدونکی رای سیستم یا-Mixed SNTV (proportional system مجموعه ده.

2. **په معقوله توګه د ټول ټاکنو دکلیزی جوړول:** د هغه کلیزی په اساس چې د افغانستان ټاکنی ترسره کیږی، باید چې د اساسی قانون د تعدیل له لاری په معقوله توګه ترتیب شی. د اوسنی کلیزی په اساس، تمه کیږی چې په راتلونکی کی نژدی هر کال په افغانستان کښې ټاکنی تر سره شی. چی دا خپله د افغانستان د انتخاباتو د پروسی پر ذیځل اشخاصو غیر ضروری فشار واردوی. او د خاصو قانونی مراجعو په واسطه د انتخاباتو په پروسه کی د لازمو تغیراتو د راوړلو څخه چې د اجرا په حال کی دي مخنوي کوی. یوه طرح چی د یو شمیر ناظرینو لخوا وړاندی شوی ده، د دو پړاو ټاکنو ترسره کول دی. یو، د جمهوری ریاست او پارلمانی ټاکنی او دوم، د ولایتی شورای او ښاروالی ټاکنی دی. چی په متناوب ډول د ټاکنو هر پړاو پس له دو کالو باید تر سره شی.

3. **د ټاکنو خپلواک کمیسیون د کمیشنرانو د ټاکنو پروسه باید چې مشورتی وی.** د ټاکنو په پروسه کی نژدی ټول دخیل اشخاص بې دی نظر دی د ټاکنو خپلواک کمیسیون د کمیشنرانو د تقرر پړاو ددی کمیسیون د رئیس په شمول باید چې بدلون ومومی او پر اجرایی مقام د کتنې واک دی خوندی وی. ډیری پر دی آند دي چې ولسی جرګه باید د کاندیدانو د لست په وړاندی کولو او یا د ولسمشر لخوا د انتصابی کسانو د قانونی پروسی له لاری په تاییدولو سره په دی پړاو کښی باید رول ولوبوی. بعضی هم استدلال کوی چی مدنی ټولنه باید ولسمشر ته د با استعدادو او کارپوه کمیشنران د لست د وړاندی کولو مسئول وی.

4. **تخنیکی مرستی باید چې ټاکنیزو ټولنو ته په مختلف ډول ورکړل شی:** مرستی باید چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون او د داخلی نظارت بهیر ته په مختلفو میکانیزمونو ورکړل شی. په هیڅ ډول نباید د یوه سازمان مشاورین د مختلفو ادارو په مسولیتونو کښې مداخله وکړی. مشاورین باید چې په اداراتو کی ځای پر ځای شی او ادارات باید چې د لاسته راوړونکو مرستو په اړه وواې.

5. **د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون باید چې یوه دایمی کمیسیون وی، او ددی کمیسیون خپلواکی او اجرایوی واکونه باید چې تقویت شی:** د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون باید چې یو دایمی کمیسیون وی او د بندیزونو او سزاګانو د وضع کولو لپاره نور هم تقویه شی او د ددی کمیسون خپلواکی د اجرایوی واکونه باید ډیر شی.

6. **د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون باید چې له وړاندې تاسیس‌شي او لازمه بودجه دې ورته برابر شي:** د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون باید چې له وړاندې تاسیس شي تر څو د مرکز او ولایاتو په سطح په موثره او سرګړه توګه د شکایتونو د څیړلو د سیستم د تشکیلولو لپاره کافي وخت ولري. ددې کمیسیون بودجه باید چې تضمین او دا کمیسیون د مالي تصمیمونو په نیولو کښې خپلواک وي.

7. **د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته باید چې ډیر قانوني صلاحیتونه ورکړل شي:** دواړه کمیسیونونه د ټاکنو سرغړونکو ته د دولتي مسئولینو په شمول چې مجرم و پیژندل شي د بندیزونو او سازاګانو په وضع کولو کې نورهم تقویه شي، ترڅو په عاجله توګه د هغوی په وړاندې بندیزونه او سزاګاني وضع کړي.

8. **د انتخاباتو د ظرفیت د لوړوالي لپاره د اوږد مهالی ستراتیژی انکشاف:** نړیواله ټولنه باید چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنو په پروسه کښې دخیل اشخاصو سره د ټولټاکنو د ظرفیت د لوړوالي په موخه اوږد مهالي استراتیژي ته وده ورکړي. ټاکنیزو اداراتو ته باید په مناسبه توګه مرستي وشي تر څو په راتلونکي کې پر ځان متکي شي. نړیوال مشاورین دی نباید اداراتو ته پلانونه جوړ او تطبیق کړي، مګر هغوی د باید ټاکنیزو ادارو د پلانونو په انکشاف او تطبیق کې هغوی ته مشوري ورکړي.

9. **د ټاکنو قانون باید چې د مشرانو جرګې د ټاکنو په اړه ابهامات واضح کړي:** د ټاکنو قانون باید د ټاکنو د خپلواک کمیسیون رول په دا ډول ټاکنو کښې، د ټاکنو د دایرولو لپاره لازمي نصاب حد، او د ولایتي شورای د منتخبو اعضاو بدلون مشرانو جرګه ته واضح کړي.

10. **د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید د خپلو کارکونکو د بې طرفی د تضمین لپاره ډیر اقدامات ترسره کړي:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید یو پرمختللي او عالي سیسیتم د خپلو کارمندانو د ټاکلو لپاره غوره کړي تر څو د خپلو کارمندانو سیاسي بیطرفي تضمین کړي. د صلاحیتونو څخه د ناوړه ګټې اخستینې په صورت لپاره باید ښکاره سزاګاني وضع شي، لکه د کارمندانو ګومارل په ولایاتو کښې لرې د هغوی د اصلي تم ځای څخه.

11. **د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید په ډیره شفافه توګه کار وکړي:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید په عاجله توګه د مدني مشارکت یوه هر اړخیزه او شفافه استراتیژي جوړه او وده ورکړي، تر څو د خلکو اعتماد د ټاکنو پر پروسې لاس ته راوړي. ددې استراتیژي د یوې برخې په توګه، د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید د ټاکنو په پروسه کې د دخیل اشخاصو یوه لویه ډله، د مدني ټولنې غړي، کاندیدان او سیاسي ډلې په خپلو عمومي جلساتو کې د ګډون لپاره دعوت کړي.

12. **د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید د استخدامولو ښې برنامې د هغو خلکو لپاره چې کمه توجه ورته شوری خپلې کړي:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید د استخدام داسې سیستم چې د کافي تعداد کارمندانو، د هغه افرادو په شمول چې کمه توجه ورته شوې، په خاصه توګه هغه اشخاص چې په لرو پرتو سیمو کې وسیږي د ګومارلو تضمین کونکي وي، خپل کړي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید په جدي توګه د مدني ټولنې همکاري په پام کې ونیسي.

13. **د رای ورکولو د مرکزونو لست باید د ټاکنو د پروسې په لومړیو کې نهایي شي:** که څه هم تغیریدونکې امنیتي حالت ممکن د رای ورکولو د مرکزونو د لست له اعلانولو څخه مخنوی وکړي او د رای ورکولو ټول مرکزونه د مخه اعلان نشي د ټاکنو خپلواک کمیسیون او مربوطه امنیتي چارواکي باید هڅه وکړي تر څو د امکان تر حده د رای ورکولو د مرکزونو نهایي لست هر څه ژر مشخص شي. کافي وخت باید فراهم شي تر څو د رای ورکولو د مرکزونو فهرست د نظارتي ټولنو او مدني څیړنکو سره شریک شي، او هر ډول بدلون باید په علني توګه اعلان او په مناسبه توګه توجیح شي.

14. **د ښځو لپاره امکانات او په سیاسي چارو کې د ګډون فیصدي باید زیاته شي:** ښځینه کاندیدان او د مقننه اعضاو سره باید ډیرې مرستې وشي. داسې پروګرامونه باید پلي شي چې د هغو هدف په مختلفو سیاسي چارو کې د ښځو د ګډون زیاتوالي وي. نارینه کاندیدان او منتخب چارواکي باید د ښځو د مهم رول په اړه چې په پروسه کې لوبولې شي ومني.

15. **د رای و رکولو ټول ثبت شوی کارتونه باید د عکس لرونکي وي:** ددې لپاره چې د بل شخص په نمایندګې د رای ورکولو څخه مخنیوی وشي، په خاصه توګه سرې د ښځو په نمایندګې، باید د سړیو او ښځو د رای ورکولو کارتونه د عکس لرونکي وي.

16. **په هیواد کې باید ملي سر شمیرنه تر سره شي او د هویت کارت (تذکره) په ځیر وکتل شي:** نړیواله ټولنه او د افغانستان حکومت باید د خلکو د ثبت کتاب د جوړولو په موخه، ملي سر شمیرنې ته لومړیتوب ورکړي. د هویت کارت یا د تذکرې باید په ځیر وکتل شي.

17. **د رای ورکونکو د نوم لیکنې کتاب ته باید پاملرنه وشي:** په داسې حال کې چې د رای ورکونکو د نوم لیکنې کتاب د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کښې وکارول شي، باید چې دا کتاب نوی او تکراري نومونه تری ویستل شي. باید چې پروسه کې دخیل افغانانو سره د نړیوالو کارپوهانو مشورتي غونډې جوړه شي تر څو د نوم لیکنې د پروسې سره د مرستې او د ضروریات د پوره کولو او ددې مشکل د حلولو په موخه پریکړې وکړي. د ښاریانو د ثبت کتاب ته د رای ورکونکو د فهرست د کارولو په توګه باید خاصه پاملرنه وشي.

18. **د ټاکنیزو حوزو د سرحدونو ټاکلو ته باید لومړیتوب ورکړل شي:** د کورنیو چارو وزارت او د افغانستان ولسي جرګه د مرکزي احصاییې دفتر په همکارۍ د ولسوالۍ، ښاروالۍ، کلیو او اړوند محلي اداراتو د سرحدونو ټاکلو ته باید لومړیتوب ورکړي. د ټاکنیزو سرحدونو ټاکلو ته باید پاملرنه وشي.

19. **د مدني زدکړې لپاره باید لوی پروګرامونه وکارول شي:** د مدني زدکړې پروګرام چې د مختلفو بحثونو لکه مدني مسئولیتونه، چې د ټولو افغانانو لپاره وي باید جوړ او پلي شي. دا پروګرام باید به دوامداره او پراخه توګه حمایت شي، په خاصه توګه په لرو پرتو او هغو سیمو کې چیرته چې کمه پاملرنه ورته شوی پلي شي.

20. **د رسنیو رول باید روښانه او د هغوی خپلواکي تضمین شي:** قانون باید د رسنیو مساویانه لاسرسي او د هغوی عادلانه او متوازن رول واضح کړي. د رسنیو خپلواکي، په خاصه توګه د افغانستان ملي رادیو تلویزون خپلواکي باید تضمین شي. د رسنیو کمیسیون باید تقویت شي تر څو د مقرراتو څخه د سر غړونکو په وړاندې بندیزونه تحمیل کړي. د خبریالانو او رسنیو لپاره د زدکړې لا زیات پروګرامونه لکه په ډیموکراسي کې د رسنیو رول په اړه جوړ شي.

21. **د داخلي نظارت کونکې سازمانونو څخه باید په دوامداره توګه ملاتړ وشي:** نړیواله ټولنه باید په اوږد مهاله او دوامداره توګه د داخلي نظارت کونکي سازمانونه او نوري مدني ټولنې حمایت کړي. تخنیکي مرستې باید د سازمانونو د ظرفیت د لوړوالي په موخه ولګول شي تر څو وکړی شي د نورو اړخونو څخه د حکومت کړنې نظارت کړي او ګټوری حمایوي مبارزې په لاره واچوي.

22. **د کاندیدانو د نوم لیکنې شرایط باید سخت او د کاندیدو وړتیاوې دې لوړې شي:** په ټاکنو کې د ډیرو غیرو معقولو کاندیدانو د مخنوي په موخه باید د کاندانو د وړتیا معیارونه لوړ شي، لکه د کافي سواد لرل او تحصیلي غوښتنې. د کاندیدانو نوم لیکنه ممکن د رای ورکونکو د ډیرو امضا ګانو لرل په ګوته کړي.

23. **له سیاسي ډلو څخه باید ذیاد ملاتړ وشي:** نړیواله ټولنه باید خپل ذیاد ملاتړ د سیاسي ډلو د پروګرامونو څخه اعلان کړي. او هغه ډلې چې خلک ګوماري کوم چې کمه پاملرنه ورته شوی لکه ځوانان، ښځې او قومي اقلیتونه، باید تشویق شي.

24. **د هغو کاندیدانو د مخنوي په موخه کوم چې د غیر قانوني مسلح ډلو سره ارتباط لري د پروګرامونو پلي کول:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون د نباید د غیر قانوني مسلح ډلو سره د کاندیدانو د اړیکو د پېژندګلوی مسؤل وي. دا کمیسیون باید د کاندیدانو وړتیاوې د نورو ارګانونو لخوا د ورکړل شوي لست او معلوماتو په اساس وټاکي. دا باید په ډاګه شي چې کومه اداره د داسې اړیکو د پیژندلو او تشخیص مسؤلیت لري. د دې لست د لاښوالي په موخه، نړیواله ټولنه باید د هر ډول معلوماتو په ورکولو کې مرسته وکړي.

25. **په ټاکنیزو مبارزو کې د دولتي منابعو څخه د ګټې اخیستلو کړنلارې باید جوړې شي:** دولتي منابعو ته لاس رسي باید په برابره توګه وي او د ګټې اخیستلو کړنلاره چمتو او سرغړونکو ته درانه سزاګانې او بندیزونه تصویب شي. یو روڼ سیستم باید جوړ او چارواکي دې د سرغړونکو په نیولو کې لا زیاد فعل شي.

26. **د ټاکنیزو مبارزو غښتلې کړنلارې دې تصویب شي:** د ټولو کاندیدانو څخه دې وغوښتل شي تر څو خپل مالي او د شخصي ملکیتونو راپور، سره د ټاکنیزو مبارزو د مصارفو میاشتني راپور د ټاکنو کمیسیون ته وړاندې کړي.

27. **د درغلیو اصلی او مهم ټکی دی په کوته شی:** ددی بهیوسی د تقویت په موخه او ښو نظریاتو د لاس ته راوړولو په موخه د ۲۰۰۹ کال په ټولټاکنو کی درغلی په کامله توګه وځیړل شی، تر څو په راتلونکی کی د درغلیو د پیژندلو کړنلاری په ګوته او درغلی کمه شی.

28. **په ښه توګه د ټاکنیزو موادو خوندی ساتل او تنظیمول:** د ټاکنیزو حساسو موادو د تنظیم او خوندی ساتلو په موخه باید لا زیاد کوښښ وشی او اړین او واضحه کړنلاری پلی شی.

29. **د رای شمیرنی د مرکزونو په اړه باید له سره غور وشی:** د رای شمیرنی او تطبیق پروسه باید د رای ورکونی د ختمیدو سره سم پیل شی. د ولایاتو او د رای ورکولو د مرکزونو په سطح امنیتی ننګونو ته په پام کی نیولو سره، خاصه توجه باید وشی تر څو رای شمیرنه د ولایاتو په سطح دایره شی. په داسی حال کی چی رای شمیرنه د ولایاتو په سطح دایره شی، د ولایاتو او د رای ورکولو په سطح باید اقدامات وشی چی تر څو ناظرینو او د کاندیدانو نمایندګانو لاس رسی تضمین شی.

30. **د نتایجو فورمی باید له سره جوړی شی:** د نتایجو فورمی د ښه والی په موخه دا فورمی باید ارزیابی او له سره جوړی شی. لکه د رای ورکولو بهر محل کی د رای ورکونکو په فهرست کی د ثبت شمیری ته ځای ورکول.

31. **د رای ورکولو د پاڼو/صندوقونو د کتنی، قرنطین او باطلولو په موخه د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید واضح کړنلاری خپلی کړی:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید د رای ورکولو د پاڼو/صندقونو د کتنی، قرنطین او باطلولو په خاطر ځانګړی معیارونه او واضح کړنلاری خپلی کړی. دا پروسه باید چی په روښانه توګه وی او د ددی پروسی د توضیح لپاره باید ناظرینو او د کاندیدانو نماینده ګانو ته سمینارونه دایر شی.

32. **د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون باید د شکایتونو د ځیړلو یوه روښانه پروسه خپله کړی:** د امکان تر حده، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون باید د تحقیق او ځیړلو یوه روښانه کړنلاره خپله کړی او په خاصه توګه ناظرینو او د کاندیدانو نماینده ګانو ته ددی په اړه معلومات وکړل شی.

33. **په هره سطح د دولتی چارواکو صلاحیتونه باید روښانه شی:** په پای کی یوه اداره باید دا واک ولری تر څو د اساسی قانون په اساس آخری فیصلی صادری کړی. د دولتی چارواکو صلاحیتونه باید په هره سطحه کنترول او روښانه شی او یو توازن باید برقرار شی. د ستری محکمی رول باید په ټولټاکنو کښی واضح شی.

34. **په ټاکنو کښی سرغړونکو ته باید درانه سزاګانی تصویب شی:** دولتی چاروکو ته کوم چی د ټاکنو په بهیر کی لاس وهنه کوی باید درانه سزاګانی تصویب شی، او د هغوی په وړاندی باید چټک او جدی اقدامات وشی. او هر څوک چی په درغلیو کی لاس ولری باید په ښکاره توګه محکمی ته معرفی او په عاجله توګه درانه سزاګانی ورته ورکړل شی.

**د اسنادو ماخذ**

| عنوان | سازمان/اداره | نیټه |
|---|---|---|
| د سیاسی حقوقو ګډه ارزیابی، لومړی راپور ۲۵ اپریل - ۱۲ جون ۲۰۰۹ | AIHRC-UNAMA | ۱۲جون ۲۰۰۹ |
| د سیاسی حقوقو ګډه ارزیابی، دوهم راپور ۱۶ جون - ۱ اګست ۲۰۰۹ | AIHRC-UNAMA | ۱ اګست ۲۰۰۹ |
| د سیاسی حقوقو ګډه ارزیابی، دریم راپور ۱ اګست - ۵ اکتوبر ۲۰۰۹ | AIHRC-UNAMA | ۵ اکتوبر ۲۰۰۹ |
| د ټاکنو د نظارت ماموریت سپارښتنې ANFREL | ANFREL | |
| حقوقی کتنه: د افغانستان د جمهوری ریاست او ولایتی شورای ګانو ټاکنې، کال ۲۰۰۹ | ANFREL | |
| د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال ټاکنې: د دیموکراسی د تطبیق په لار کې په افغانستان کې تخنیکی کړاونه | AREU | ۱ نومبر ۲۰۰۸ |
| تل پاتې صلحه د غورو سیاسی سازمانونو غوښتونکې ده | AREU | ۱۶ فبروری ۲۰۱۰ |
| د مشروعیت د لاسه ورکول: د بعضې افغانانو، نړیوالو ټولنو نظریات، او د ۲۰۰۹ کال ټول ټاکنې | AREU | ۱ نومبر ۲۰۰۹ |
| ګډه رای ورکونه: ولې د افغانستان د ۲۰۰۹ کال ټول ټاکنې یوه ناورین وه (او نه وه) | AREU | ۱ نومبر ۲۰۰۹ |
| آخری راپور - EUEOM | EUEOM | ۱۲ اکتوبر ۲۰۰۵ |
| آخری راپور - EUEOM | EUEOM | ۱۶ دسمبر ۲۰۰۹ |
| د ټاکنو آخری راپور ۲۰۰۵ | FEFA | ۱۸ سپتمبر ۲۰۰۵ |
| د ټاکنو آخری راپور ۲۰۰۹ | FEFA | ۱ جنوری ۲۰۱۰ |
| افغانستان: ټولټاکنې او د حکومت داری ګډلیچونه | ICG | ۲۵ نومبر ۲۰۰۹ |
| د افغانستان د ټول ټاکنو کړکیچونه | ICG | ۲۴ جون ۲۰۰۹ |
| د افغانستان د حقوقی چوکاټ تحلیل | IFES | ۲۸ فبروری ۲۰۰۶ |
| د جمهوری ریاست او ولایتی شورای د ټول ټاکنو په اړه د جاپانیانو د ټاکنو د نظارت د ماموریت راپور | Japanese EOM | ۲۳ اګست ۲۰۰۹ |
| د ټاکنو د پروژی مینځ محاله ارزیابی | UNDP | ۴ نومبر ۲۰۰۹ |

| نیټه | سازمان/اداره | عنوان |
| --- | --- | --- |
| ۲۲ اګست ۲۰۰۹ | NDI | د NDI د ټاکنو د نظارت لومړی اعلامیه |
| ۱ اکتوبر ۲۰۰۴ | OSCE-ODIHR | د ټاکنو OSCE/ODIHR حمایوی ټیم- آخری راپور |
| ۱ اکتوبر ۲۰۰۵ | OSCE-ODIHR | د ټاکنو OSCE/ODIHR حمایوی ټیم – آخری راپور |
| ۸ دسمبر ۲۰۰۹ | OSCE-ODIHR | د ټاکنو ټیم- OSCE/ODIHR حمایوی آخری راپور |
| ۲۷ سپټمبر ۲۰۰۵ | UNAMA, IEC | استراتیژی ګروپ پس له ټول ټاکنو |
| ۲۸ اکتوبر ۲۰۰۹ | SIGAR | په ټول ټاکنو کښی د ښځو د ګډون په وړاندی لوی مشکلات |
| ۲۲ سپټمبر ۲۰۰۹ | SIGAR | د ټاکنو د ظرفیت د لوړوالی لپاره لازمه استراتیژی او منابع |
| ۲ فبروری ۲۰۱۰ | USIP | ځنډونه به د افغانستان ټول ټاکنی بهتره نکړی |